# مجله مهاجر

د افغانستان اسلامي امارت

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت

مالي او اداري معينيت

د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست




د مهاجر د نړيوالې ورځې د نمانځلو مراسم

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت د خپرونو اداره (۲) گڼه پسرلی ۱۴۰۲

بسم الله الرحمن الرحیم

# مهاجر مجله

Ministry of Refugee and Repatriation

**د امتیاز څښتن:**
د مهاجرینو اوراستنېدونکو چارو وزارت
**مسؤل مدیر:**
مفتي عبدالمطلب حقاني
**تحریري هیئات:**
قاري عبدالمتین رحیمزی
مفتي عبدالمطلب حقاني
یونس تنویر
محمد اشرف حنیفي
جمال ناصر نادري
**راپور ورکوونکي:**
احمد شکیب حبیبي
**ژباړه او ایډیټ:**
سید پښتون پښتون
**عکاس:**
نظام الله سبحاني
**ډیزاینر:**
نوید الله سعیدي

## لیکلړ

سرلیکونه — مخګڼه

سرمقاله ........................................ ۱
د وزارت د چارواکو مهم فعالیتونه ............ ۲
په ولایتونو کې د خدماتو وړاندې کول....... ۱۲

# سرمقاله

وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَاتَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (سوره مائده د دوهم آيت وروستۍ برخه)

ژباړه( په نېکۍ او تقوا کې يو له بل سره مرسته وکړئ او په ګناه او سرکشۍ کې يو له بل سره مرسته مه کوئ او له الله څخه ووېرېږئ، ځکه د هغه عذاب ډېر سخت دی)

د اسلام سپېڅلی دين د مسلمانانو په مرسته، همکارۍ او د اړمنو مسلمانانو په لاسنيوي جدي ټينګار کړی او د دې آيت په وروستۍ برخه کې چې پورته يې د ژباړې سره ذکر شوی هم همدې موضوع ته اشاره شوې او همدارنګه په دې ټينګار شوی، چې له الله ج څخه ووېرېږئ چې سزايې ډېره سخته ده.

په نړۍ کې د اړمنو خلکو ياډلو په منځ کې مهاجرين او بېځايه شوي شامل دي، چې له بده مرغه د دوی لوی شمېر د اسلامي نړۍ سره تړاو لري او دا دوه ډلې چې د بېلابېلو مجبوريتونو له امله د خپلو کورونو، اصلي سيمو او حتی هېواد پرېښودو ته اړ شوي هريو يې د مرستو او همکاريو مستحق دي.

په ټوله کې نړيوال د بشريت، د اسلامي هېوادونو د واکمنانو او شتمنو مسلمانانو د ديني ورونو او خويندو په توګه د دوی پروړاندې انساني او ديني مسؤليت او مکلفيت لري.

که چېرې د نړۍ شتمن او نيمه بډايه مسلمانان، چې شمېر يې، بې له شکه له يو مليارد څخه زيات دی په هره مياشت يا هر کال کې يو ځل لږې پيسې يا خوراکي او غير خوراکي توکي راټولوي او د خپلو هېوادونو او حکومتونو له لارې يې په مهاجرينو او بېځايه شوو وېشي دوی به نور اړ نه وي چې غير اسلامي هېوادونو او ملتونو ته لاس اوږد کړي.

همدارنګه په ذکر شوي آيت کې ويل شوي چې ( په ګناه او سرکشۍ کې له يو بل سره مرسته مه کوئ) يعنې د خپلو ډلو سره د نورو په سرغړونو کې، چې له بده مرغه په ډېرو اسلامي هېوادونو کې همداسې حالت موجود دی اوددې شاهدان يو کله چې اسلامي هېوادونه د کفري هېوادنو له تجاوز سره مخ کېږي، زياد شمېرمسلمانان پر ځای ددې چې د تجاوز په مقابل کې عکس العمل وښايي د متجاويزنو په څنګ کې ولاړ دي او په خپلو مسلمانانو ورونو او خويندو باندې ظلم روا ګڼي او د هغوی سره ملګري کېږي.

افغانستان چې يو د نړۍ د بيوزلو مسلمانو هېوادونو څخه دی، چې له څه باندې څلوېښتو کلونو راهيسې د مهاجرت او بېځايه کېدو له ستونزو سره مخ دی او دا مهال څه باندې شپږ ميليونه افغانان د نړۍ په بېلابېلو برخو کې مهاجر دي او شاوخوا درې ميليونه نور يې د بېځاه کېدو په په حالت کې ژوند کوي او بې له شکه ددې لوی ډلې له راستنېدو پرته زموږ د ملت بدن نيمګړی دی.

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت د کوربه هېوادونو او له هغه مرستندويه ادارو څخه منننه کوي، چې له شرايطو پرته يې په سخاوتمندانه ډول مرستې کړې او د هغوی مرستې د مهاجرينو چارو وزارت د فعاليتونو ترڅنګ په دې مجله کې يادې شوې منننه او قدرداني کوي مګر له نړيوالو په ځانګړې توګه د اسلامي هېوادونو څخه غوښتنه کوو، چې د خپلو مرستو په کيفيت او کميت له سره غور وکړې او له اړمنو سره دې په کافي اندازه مرستې ترسره شي، ترڅو يو ځل بيا د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ نه شي، له بېځايه شوو سره دې بې له قيد او شرطه مرستې وشي او هڅه دې نه کوي چې يو قوم او يا د ملت يوه برخه يرغمل کړي او يا د نورو لپاره د يرغمل کولو زمينه برابره کړي.

د مهاجرينو چارو وزارت مهاجرو او بېځايه شوو خلکو ته د خدماتو د رسولو په برخه کې د امکان تر حده هڅه کوي، خو د اړو کسانو د زيات شمېر په پام کې نيولو سره د نړيوالې ټولنې مرستو او همکاريو ته اړتيا لري او په ټوله کې يوشمېر هېوادونه په افغانستان کې دغو ستونزو ته د رسېدوپه موخه اغېزمنې همکارۍ مسؤليت لري.

## د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست د هرات ولایت د مهاجرینو چارو ریاست فعالیتونه و ارزول

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د ۱۴۰۲ کال د وري په لومړۍ نېټه د هرات ولایت د مهاجرینو چارو ریاست څخه لیدنه وکړه.

ښاغلي حقاني د هرات ولایت د مهاجرینو چارو ریاست څخه د لیدنې پرمهال ددې اداري چارې وارزولې او هغوی ته یې د اطاعت، د کارونو په روڼتیا او پر وخت د چوپړتیاوو د رسولو په اړه لازمي لارښوونې وکړې.

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست د دوی نظریات، وړاندیزونه او ستونزې واورېدې او د حل ډاډ یې ورکړ.



## د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست د اسلام قلعه دروازې د مهاجرینو له آمریت څخه لیدنه وکړه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د هرات ولایت د اسلام قلعه دروازې د مهاجرینو چارو له امریت څخه د غوایي په ۲ مه نېټه لیدنه وکړه.

ښاغلی حقاني هرات ولایت ته د خپل سفر په ترځ کې د اسلام قلعه دروازې ته لاړ او د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د سرحدي آمریت کارونه یې وارزول.

هغه د یادې اداري د کړنو د ارزونې پرمهال د دغه آمریت له کار کوونکو سره له نږدې خبرې وکړې ، هغوی ته یې د کارونو په روڼتیا او پر وخت د چوپړتیاوو د رسولو په اړه لازمي لارښوونې وکړې او د دوی ستونزې او مشکلات یې واورېدل او د حل ډاډ یې ورکړ.

حقاني همدارنګه د افغانستان او ایران سره پر پوله د ځینو همکارو بنسټونو له استازو سره هم خبرې وکړې، د هغوی د کارونو ستاینه یې وکړه او لازمې سپارښتنې یې ورته وکړې.

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست سره په دغه سفر کې د وزارت ارشد سلاکار مفتي محمود ذاکري، د مرستو د همغږۍ رییس شیخ عبدالرحمان رحماني او د حقوقي ملاتړ رییس مولوي محمودالحق احدي ملګري وو.



## د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست د پاکستان له شارژد افیر سره وکتل

د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د پاکستان له شارژد افیر محمد جنید سره د وري په ۲ مه نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دغه لیدنه کې د درې اړخیزو ناستو، د افغان بندیانو، په پوله د تلو راتلو پرمهال د اسانتیاوو رامنځته کولو او د مهاجرینو پر ستونزو خبرې وشوې.

ښاغلي حقاني له پاکستان هېواد څخه وغوښتل، هغه مهاجرینو ته، چې غواړي د حج فریضې ادا کولو لپاره افغانستان ته راشي، په تګ راتګ کې اسانتیاوې رامنځته کړي.



حقاني همدارنګه د افغانستان او ایران سره پرپوله د ځینو همکارو بنسټونوله استازو سره هم خبرې وکړې، د هغوی د کارونو ستاینه یې وکړه او لازمې سپارښتنې یې ورته وکړې.

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست سره په دغه سفرکې د وزارت ارشد سلاکارمفتي محمود ذاکري، د مرستو د همغږۍ رییس شیخ عبدالرحمان رحماني او د حقوقي ملاتړ رییس مولوي محمودالحق احدي ملګري وو.

## د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست په کابل کې د ایران له سفیر سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني په افغانستان کې د ایران له سفیر حسن کاظمي قمي سره د وري په ۲ مه نېټه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.



په دې لیدنه کې ښاغلي حقاني د ایران له سفیر څخه په دغه هېواد کې د مېشتو افغان مهاجرو سره د ښې رویې، دحج د مراسمو پرمهال د افغانانو تګ راتګ، د مهاجرینو چارو وزارت د اتشې سره د همکاریو او په بېلابېلو پېښو کې د وژل شویو افغانانو د جسدونو د چټک لېږد په برخه کې د همکارۍ غوښتنه وکړه.

په دې لیدنه کې د مهاجرینو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي هم شتون درلود نوموړي د ایران له سفیر څخه وغوښتل، چې په تېرو ناستو کې چې د افغان مهاجرینو په اړه کومې هوکړې شوې، عملي کړي.

د ایران سفیر ښاغلي قمي وویل، موږ د افغان مهاجرینو سره ښې اړیکې لرو او تل هڅه کوو، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې لانږدې کړو.

هغه ژمنه وکړه، چې ذکر شوي موضوعات به د خپل هېواد له اړوندو چارواکو سره شریکې کړي.

## د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست د پکتیا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست کړنې وارزولې

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د یو پلاوي په ملتیا د وري په [illegible] مه نېټه پکتیا ولایت ته سفر وکړ.

ښاغلي حقاني د خپل سفرپه ترځ کې د پکتیا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د کارونو د ارزونې ترڅنګ د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست کار کوونکو ته د غوره خدماتو د وړاندې کولو په اړه لازمې لارښوونې وکړې.

هغه همدارنګه د دغه ولایت په ګردې خېرې ولسوالۍ کې له [illegible] څخه زیاتو کورنیو ته بشري مرستې ووېشلې.

ښاغلي حقاني له یادې موسسې مننه وکړه او ټینګار یې وکړ، چې بشري مرستې دې په شفاف ډول مستحقینو ته ورسېږي.



## د مهاجرینو چارووزارت سرپرست په کراچۍ کې د افغانستان سفارت د قونسل سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني په کراچۍ کې د افغانستان سفارت د قونسل مولوي عبدالجبار سره د غوایي په ۱۸ مه نېټه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې په سند ایالت کې د افغان مهاجرو په اوسني وضعیت، د شته ستونزو په هواري، د حقوقو په تامین، د افغان مهاجرو د عزت او حیثیت په ساتنې، افغان بندیانو په خوشې کېدو، د ویزو او تګ راتګ د اسانتیاوو، هېواد کې افغان راستنېدونکو مهاجرو ته د سرپناه، کار او سرمایه ګذارۍ د اسانتیاوو په برابرولو او د حج د مراسمو لپاره افغان مهاجرینو لپاره د پروسې په اسانتیاوو خبرې شوې.



په دې لیدنه کې د وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد هم شتون درلود.

## د مهاجرينو چارو وزارت سرپرست د ايران له سفير سره ليدنه وکړه

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقاني په کابل کې د ايران هېواد د سفير ښاغلي حسن کاظمي قمي سره په خپل کاري دفتر کې ليدنه وکړه.

په دې ليدنه کې په ايران هېواد کې د افغان مهاجرو په شته ستونزو، افغان مهاجرينو ته د لازمو اسانتياوو په برابرولو، بيت الله شريف ته د حج د مراسمو د ادا کولو لپاره په ايران هېواد کې د ميشتو افغانانو د ليږداو ددې ترڅنګ په دې هېواد کې د مهاجرينو د نويو اتشو د کاري بهير د پيلولو په اړه خبرې وشوې.

د ايران سفير قمي ډاډ ورکړ چې هېواد به يې د تېر په څېر افغان مهاجرينو سره مرسته او همکاري وکړي.



د مهاجرينو چارو وزارت سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقاني د افغان مهاجرينو د کوربه توب په اړه د ايران هېواد څخه مننه وکړه.

## د مهاجرينو چارو وزارت له لارې زر تنه افغان مهاجرين د حج د فريضې لپاره سعودي عربستان ته ځي

بيت الله شريف ته د حج د فريضې د ادا کولو لپاره د زر تنو حاجيانو قرعه کشي د مهاجرينو چارو د سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقاني له لورې د غوايي په ۲۸ مه نېټه ترسره شوه.

د مراسمو په پيل کې د مهاجرينو چارو وزارت ارشد سلاکار مفتي محمود ذاکري د پېغمبرانو په زمانه کې د قرعه کشۍ د شاليد په اړه معلومات ورکړل. وروسته د مهاجرينو چارو وزير د حج غوښتونکو د ټاکلو پرڅرنګوالي خبرې وکړې ويې ويل، په ټولو کې د حج لپاره څلور زره او ۵۵ تنو نوملیکنه کړې وه، چې د حج او اوقافو وزارت له لورې دغه وزارت ته زر تنه سهميه ورکړل شوې وه.

حقاني زياته کړه د شفافيت او د فساد د مخنيوي په موخه يې د حج او اوقافو وزارت او راستنېدو ته د هڅوني رياست د مسؤلينو او کار کوونکو په ګډون يوه کمېټه جوړه کړې او په پام کې ده چې د ايران، پاکستان او يو شمېر نورو هېوادونو څخه ۱۰۰۰ تنه مهاجرين د قرعه کشۍ له لارې و ټاکل شي.

د هغه په خبره هغه کسان، چې نومونه يې د قرعه کشۍ له لارې را وتلي، هېواد ته به راځي او له اداري طی مراحلو وروسته به سعودي عربستان ته ځي.

وريسې مالي او اداري مرستيال الحاج محمد ارسلاح خروټي د پروسې د پيل او جريان په اړه خبرې وکړې او د يادې کمېټې له غړو او په بهر کې د مهاجرينو د اتشې څخه مننه وکړه، چې په لنډ وخت کې يې دغه پروسه برابره کړې ده.



همدارنګه د چارو اداري او د حج او اوقافو وزارت استازو هم د موضوع اړوند خبرې وکړې او په دې برخه کې يې د مهاجرينو چارو وزارت د هڅو ستاينه وکړه.

وروسته د مهاجرينو چارو وزارت د رهبرۍ او د وزارت د سرپرست له لورې ټاکل شوي کمېټې قرعه کشي شروع کړه.

## د مهاجرينو سرپرست د زندانونو چارو د تنظيم اداري له نظامي مرستيال سره ليدنه وکړه

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزير او د بنديانو د برسۍ د پلاوي غړي الحاج خليل الرحمن حقاني د زندانونو چارو د تنظيم اداري له نظامي مرستيال لوی پاسوال قاري حبيب الله بدري سره د غبرګولي په □ مه نېټه په خپل کاري دفتر کې ليدنه وکړه.

په دغه ليدنه کې لوی پاسوال بدري د هغه کړنو په اړه، چې د زندانيانو د وضعيت د ښه والي په موخه تر سره شوي معلومات ورکړل او ويې ويل، چې د دغه اداري چارواکو او کار کوونکو په خپلو هڅو سره د زندانونو د لا ښه والي او زندانيانو ته د ښو شرايطو په برابرولو کې خپلې هڅې جاري ساتي.



ښاغلي حقاني د زندانونو چارو اداري کړنې ګټورې وبللې له دوی څخه يې مننه وکړه او زندانيانو ته يې د لا ښو شرايطو د برابرولو په موخه لازمي لار ښوونې وکړې.

## د مهاجرینو چارو سرپرست: اسلامي امارت ژمن دی چې خپلو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره کړي

دغه خبره د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني په کابل کې ۴۰۰ مستحقو میرمنو ته د ښځو موسسې له لورې د غبرګولي په ۲ مه نېټه د خوراکي توکو د وېش پرمهال وکړه.

ښاغلي حقاني د سروې او د مرستو د وېش په برخه کې د اخلاص او شفافیت په اړه ډاډ ورکړ او له مرستندویه بنسټونو څخه یې غوښتنه وکړ، چې د سروې او د مرستو د وېش چارې دې د مهاجرینو چارو وزارت سره په هوکړې او همغږۍ، په شفاف ډول ترسره شي ترڅو مرستې اړمنو کورنیو ته ورسي.

هغه هېوادوالو ته ډاډ ورکړ، چې د اسلامي امارت چارواکي هڅې کوي او ژمن دي، چې خپلو خویندو او ورونو ته د کار زمینه برابره کړي ترڅو پر ځان بسیا او د مرستو محتاج نه وي.

همدارنګه د کابل ولایت د مهاجرینو چارو رییس د یادې موسسې له لورې د شپږ قلمه خوراکي توکو د وېش د څرنګوالي په اړه معلومات ورکړل.



دښځولپاره د ښځو موسسې رییس د مرستو د وېش د دوام په ژمنه وکړه.

## دمهاجرینو چارو وزارت سرپرست: بشري مرستې د بشر حق دی او دا حق ترې باید سلب نشي

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني دغه خبره د غبرګولي په ۳ مه نېټه د ملګرو ملتونو ادارو سره د همغږۍ ناسته کې وکړه.

هغه وویل، بشري مرستې دې د سیاسي ابزارو په توګه نه استفاده کېږي، بلکه دا د بشر حق دی او باید له قیوداتو پرته بشر ته ورکړل شي.

ښاغلي حقاني زیاته کړه، هغه وخت پای ته رسېدلی، چې هره ورځ به لسګونه افغانان وژل کېدل، اوس د هېواد هرې سیمې ته له کوم ګواښ پرته بشري مرستې رسېدای شي.

نوموړي وویل، د ډاډمن امنیت له امله شاوخوا یو میلیون او ۳۰۰ افغانان وطن ته راستانه شوي دي، چې ددوی ځای پرځای کېدنه کې ځای او کور ته اړتیا لري، خیریه بنسټونه دې مرستې په داسې ډول ترسره کړي، چې افغانان په خپلو پښو ودرېږي.



## الحاج خلیل الرحمن حقاني په کابل کې د پاکستان له سفیر سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست په کابل کې د پاکستان له سفیر عبید الرحمن نظاماني سره د غبرګولي په ۴ مه نېټه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې افغانانو ته د ویزو اسانه کولو، سرحدي دروازو کې د اسانتیاوو رمنځته کولو، د افغان بندیانو د خلاصون، افغانانو ته د بانکي حسابونو پرانستلو او موټر لایسنس جوړولو په اړه خبرې وشوې.

ښاغلي حقاني له نوموړي وغوښتل، کوم افغانان چې په پاکستان کې مېشت دي او غواړي د افغانستان له لارې بیت الله شریف ته د حج د فریضې د ادا کولو لپاره ولاړ شي په دروازو کې دې ورته د تګ راتګ اسانتیا وې برابرې کړي.

حقاني زیاته کړه یاد شوي موضوعات یې د پاکستان هېواد د بهرنیو چارو له وزیر سره هم شریکې کړي، له دوی څخه مو د همکاریو غوښتنه کړې او له دوی څخه د مثبت ځواب هیله لري.



ښاغلي نظاماني وویل، د مهاجرینو ستونزې چې په مخکې ناستو کې هم له دوی سره شریکې شوې وې د پاکستان د بهرنیو چارو له وزارت سره شریکې

ښاغلي نظاماني د یادو ستونزو د حل ډاډ ورکړ او د مهاجرینو خدمت خپل مسؤلیت او د ځان لپاره د اجر او ثواب لامل وګاڼه او په دې برخه کې یې د هر راز همکاریو ژمنه وکړه.

## دمهاجرت او بشري مرستو مسله بايدله سياسي مسايلو سره ونه تړل شي

دغه خبره د مهاجرينو چارو وزارت سرپرست وزيرد غبرګولي په ۷ مه په کابل کې د ښځو لپاره د ښځو موسسې له لورې د خوراکي توکو د وېش پرمهال وکړه.

ښاغلي حقاني په کابل کې ۴۰۰ مستحقو ميرمنو ته د ښځو موسسې څخه د خوراکي توکو د وېش له امله مننه وکړه ويې ويل، مهاجرين او بېځايه شوي زموږ د ټولنې مظلوم قشر او د مرستو مستحق دي او کوربه هېوادونه او مرستدويه بنسټونه بايد د مهاجرت او بشري مرستو مسله له سياسي مسايلو سره ونه تړي او مرستې بايد له قيد او شرط پرته وي.

هغه د ملي او نړيوالو پانګوالو وغوښتل چې په هېواد کې د مناسبو شرايطو په پام کې نيولو سره په افغانستان کې پانګونه وکړي.

همدارنګه د رياست الوزرا د اقتصادي چارو د عامه اړيکو مرستيال مولوي عبدالرحمن خاورين د مرستو دوېش پرمهال يې شتون درلود وويل، په يادو ۴۰۰ ميرمنو کې چې مرستې ورسره کېږي يو شمېر يې هغه ميرمنې دي چې د بېوزلۍ له امله سوال ته اړ شوې وې.



د کابل ولايت د مهاجرينو چارو رئيس قاري عبدالمتين رحيمزي د مرستو د وېش او روڼتيا په برخه کې او د ښځو لپاره د ښځو موسسې رئيس فريد الدين نوري د مرستو د وېش د دوام ډاډ ورکړ.

## حقاني: د حکومت تېټ او لوړ بستونه امانت دي، هرڅوک چې دا مسؤليت په غاړه لري بايد خپله دنده په اخلاص او د خداى (ج) له وېرې سرته ورسوي

دغه خبره دمهاجرينو چارو سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقاني دغبرګولي په ۸ مه د يوشمېر مرکزي رئيسانو د معرفي کولو پرمهال وکړه.



د وروستيو بدلونونو له مخې، مولوي محمدجان خدرخېل په خپله خوښه راستنېدو ته د هڅونې د رئيس، الحاج غلام نبي الله دادخېل د حقوقي ملاتړ،انجينر دادګل نايب د ښارګوټو د خدمتونو، مولوي مسعود آخندزاده د ارشاد او دعوت او الحاج اصل خان مصلح د دغه وزارت د تدارکاتو د آمر په حيث مقرر شول.



ښاغلي حقاني د پورتنيو مسؤلينو د پېژندنې پرمهال وويل، چې په ادارو کې تغييرات، ترفيع او ګوښه کول معمول او د بدلونونو اصلي موخه د چارو موثريت، ښه کول او د برياليو مسؤل هڅول ددي.

هغه زياته کړه، خلک بايد په دې خوشحاله نه شي او نه وياړ وکړي،چې د رياست، معينيت او وزارت په څوکيوګومارل شوي دي، ځکه دوی ته د ملي باور له مخې ډېر مسووليت ور سپارل شوی دی.

نوموړي وويل،مسوولين بايد د خدای او د خلکو وېره او رضا په پام کې ونيسي او په پوره امانتدارۍ، مسووليت او ښو اخلاقو سره خپلې کړنې تر سره کړي.



نويو ګمارل شوو مسؤلينو د اسلامي امارت له چارواکو د اعتماد څخه چې پردوی يې کړې مننه وکړه او ژمنه وکړه چې ورسپارل شوې دندې به په پوره صداقت او ايماندارۍ سره ترسره کوي.

## دمهاجرینو چارو وزارت سرپرست بیت‌الله شریف ته دتلوونکو افغان مهاجرینو سره خبرې وکړې



دمهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د هغو افغان مهاجرینو سره د وزارت د ناستو په تالار کې د غبرګولي په ۱۳ مه خبرې وکړې، چې د مهاجرینو چارو وزارت له لارې بیت الله شریف ته تلوونکي دي.

د مهاجرینو چارو وزارت له لارې په روان کال کې زرتنه افغان مهاجرینو، چې په پاکستان، ایران او یو شمېر نورو هېوادونو کې مېشت دي سعودي عربستان ته د حج فرضې د ادا کولو لپاره لېږل کېږي.

د دوی پچه اچونه په دغه وزارت کې ترسره شوې وه، چې د (۴) زره او (۵۰۵) تنو غوښتونکو له ډلې یې زرو تنو سعودي عربستان ته د تلو چانس ترلاسه کړی.

دمهاجرینو چارو وزیر له دوی سره په لیدنه کې په دغه وزارت کې د اسنادو د طی مراحلو، د حج او اوقافو او سعودي عربستان ته د سفر په اړه معلومات ورکړل.

هغه له حاجیانو څخه غوښتنه وکړه، چې له کابل څخه سعودي عربستان ته د تګ او هېواد ته د راستنېدو پرمهال له نورو حاجیانو په شان له صبر څخه کار واخلي او څنګه چې ورته استادان لار ښوونه کوي د حج مراسم په ښو اخلاقو او حوصلې سره ترسره کړي.

حقاني دوی ته ډاډ ورکړ، چې ددې وزارت چارواکي او کارکوونکي د خدمتګارانو په توګه د دوی په خدمت کې دي او د دوی د اسنادو اداري طی مراحل ترسره کوي.

وروسته د حقوقي ملاتړ رئیس او د حاجیانو د کمېټې مسؤل مولوي غلام نبي داد خېل د مهاجرینو چارو وزارت او یو شمېر نورو ادارو کې د دوی د اسنادو د طی مراحلو په اړه معلومات ورکړل او ډاډ یې ورکړ، چې د وزارت په بېلابېلو برخو کې موظف شوي کارکوونکي د دوی په خدمت کې دي.

## دمهاجرینو چارو سرپرست د چین سفیر سره لیدنه وکړه



د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني په کابل کې د چین سفیر ښاغلي وانګ یو سره د غبرګولي په ۲۴ مه په خپله کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په دې ناسته کې د راستنېدونکو او بېځایه شوو په ستونزو خبرې وشوې او د مهاجرینو چارو وزیر د لومړنیو مرستو خوراکي او غیر خوراکي توکو، سرپناه جوړولو او د روغتیایي وسایلو غوښتونکی شو.

د چین سفیر ښاغلي وانګ یو د خپل هېواد د همکاریو ډاډ ورکړ ویې ویل، چې د یو دوست هېواد په توګه له افغانستان سره په اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو برخو کې همکاري کوو او هڅه به وکړو، چې په افغانستان کې له راستنېدونکو کورنیو ژر تر ژره لومړنۍ مرستې ترسره شي.

## دغبرګولي ۳۰ مه د مهاجر نړیواله ورځ د مهاجرینو چارو وزارت کې ونمانځل شوه

د جون ۲۰ مه نېټه د مهاجر نړیواله ورځ د یو لړ مراسیمو په ترځ کې د مهاجرینو چارو وزارت کې ونمانځل شوه.

په دې ناسته کې،چې د اسلامي امارت د یو شمېر چارواکو، د نړیوالو بنسټو او موسسو د استازو، د وزارت د چارواکو، کارکوونکو او ژورنالېستانو په ګډون ترسره شوه، په لومړي سر کې د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د موضوع اړوند خبرې وکړې.



هغه وویل، مهاجرو خپل کورونه او هېوادونه له مجبوریته پرېښي او نورو هېوادونو ته تللي او لازمه ده چې د ملګرو ملتونو د ۱۹۵۱ کنوانسیونو له مخې له هغوی سره ښه او انساني چلند وشي.

هغه د کوربه هېوادونو او نړیوالو بنسټونوڅخه په مننې سره وویل، د اسلامي نظام په ټینګښت سره امنیت او فساد له منځه تللی دی، نو باید هېوادونه او همکار بنسټونه له راستنېدونکو او بېځایه شوو سره خپلو مرستو او همکاریو ته په پوره ډاډ سره دوام ورکړي او د امنیت، سړوي او د مرستو د وېش د روڼتیا په برخه کې دې ډاډه اوسي، دوی کولای شي د خپلو مرستو د لګښتونوڅارنه وکړي.

حقاني زیاته کړه، هېوادونه، بنسټونه او موسسې د هېواد په ټولو برخو کې د مهاجرینو چارو له وزارت او نورو اړوندو ادارو سره په همغږۍ فعالیتونه تر سره کړي، خو له تفاهم پرته نه شي کولای،چې فعالیتونه تر سره کړي.

د مهاجرینو چارو سرپرست له هېوادونو او نړیوالو بنسټونوڅخه غوښتنه وکړه، چې د مهاجرت، مهاجر او د بشري مرستو مسله له سیاسي مسلو سره ونه نښلوي او د بشر حقونو مطابق د مهاجرینو سره ښه چلند وکړي او دوی په جبري توګه راستنېدو ته مجبور نه کړي.

وروسته د مهاجرد نړیوالې ورځې په مناسبت د ریاست الوزرا پیغام دمهاجرینو چارو وزارت د حقوقي سلاکار محمودالحق احدي له خوا ولوستل شو.

دپیغام په یوه برخه کې د پیغمبرانو، د اسلام د رهبرانو او صحابه کرامو په زمانه کې د هجرت د تاریخ او د افغانانو د هجرت یادونه شوې وه.

همدارنګه په دغه پیغام کې د اسلامي نظام له ټینګښت وروسته د راستنېدونکو سره د مرستو غوښتنه شوې او له کوربه هېوادونوڅخه غوښتل شوي و چې له مهاجرینو سره ښه چلند وکړي.

وروسته د اقتصاد وزارت مرستیال ښاغلي ډاکټر عبدالطیف نظري د نړۍ په بېلا بېلو براعظمونو کې د مهاجرتونو د شالید او د نړۍ په پرمختګ کې د هغې مثبتو اغېزو په اړه، د وزارت ستر سلاکار محترم مفتي محمود ذاکري د افغانانو د مهاجرت، د هغوی د ستونزو او راستنېدونکو او بېځایه ته یې د دغه وزات د خدمتونو د وړاندې کولو اوچمتو والي برخه کې معلومات ورکړل.



همدارنګه د کار او ټولنیزو چارو وزارت استازي مولوي عبدالمتین د مهاجرت د عواملو، د هغه وزارت د چمتووالي، د کار غوښتونکو لپاره د کاري چاپېریال دبرابرولو او بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د کارګرانو د لېږلو په اړه یې معلومات ورکړل او د کار او ټولنیزو چارو او مهاجرینو چار وزارت ترمنځ یې پر لازیاتې همغږۍ ټینګار وکړ.

## د مهاجرینو چارو وزارت د مخکیني سلاکار د مړیني په مناسبت د قرآن ختم ترسره شو

د مهاجرینو چارو وزارت د مخکیني سلاکار او د څارنې او ارزونې د رئیس قاري محمود شاه د مړینې په مناسبت د دغه وزارت د مشر تابه او کار کوونکو له لورې د غوايي په ۱۳ مه د قرانکرایم ختم او فاتحه ترسره شوه.

د فاتحې د مراسمو په لومړي سرکې،چې د مهاجرینو چارو وزارت په مسجد کې ترسره شول، لومړی د قرآنکریم ختم او وریسې د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د مرحوم قاري صاحب محمود شاه د پوهې، د جهاد د سابقې، هجرت او د مجاهدینو او مهاجرینو په اړه د هغه د کړو خدمتونو په اړه خبرې وکړې او د لوی خدای له درباره یې ورته د جنت الفردوس غوښتنه وکړه.



همدارنګه د وزارت ستر سلاکار مفتي محمود ذاکري د مرحوم قاري صاحب محمود شاه د نېکمرغۍ او د مهاجرینو په چاروکې د هغه د مقام په اړه خبرې وکړې او د مرحوم مړینه یې یوه ستره ضایع وبلله.

د لوړو زده کړو وزارت علمي مرستیال ښاغلي لطف الله خیر خواه، د مهاجرینو چارو وزارت د مشر تابه،چارواکو او کار کوونکو د خواخوږۍ څخه مننه وکړه او د جهاد په دوران کې یې د خپل پلار د ترسره شوو فعالیتونو، په پاکستان کې د مهاجرینو په برخه کې د نه ستړې کېدونکو هلو ځلو، وفادارۍ او د هغه هیلو په اړه چې هغه لرې معلومات ورکړل.



د فاتحې مراسم د مرحوم روح ته د دعا په ویلو سره پای ته ورسېدل.

## د مهاجرینو چارو وزارت د ۱۴۰۲ کال د پلان د نهايي کولو په موخه ناسته تر سره کړه

د مهاجرینو چارو وزارت د ۱۴۰۲ کال د پلان د نهايي کولو ناسته، د مرستیالانو، مرکزي رئیسانو او کارکوونکو په ګډون د وري په ۱۴ مه د وزارت د ناستو په تالار کې ترسره شوه.

د ناستې په لومړي سر کې د مهاجرینو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي او مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د پلان د جوړولو، د هغه د اهمیت او د اداري په راتلونکو کارونو کې د پلان د رول په اړه خبرې وکړې او د ناستې د ګډنوالو څخه يې غوښتنه وکړه، کوم پلان چې د پلان او پالیسۍ ریاست له لورې جوړ شوی په اړه يې خپل نظرونه او وړاندیزونه وړاندې کړي، ترڅو د نوي کال پلان وروستی او د وزارت د ټولو څانګو له خوا تائید او د قناعت وړ وګرځي او د چارو اداري سره يې شریک کړي.

وروسته په چمتو شوي پلان خبرې وشوې او په ځينو برخو کې د ناستې د ګډنوالو له خوا وړاندې شوي ټکي اضافه او اصلاح شول.



## مالي او اداري مرستیال دملګرو ملتونو د کډوالو اداري له مرستیالې سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال او د وزارت سرپرست الحاج محمد ارسلاح خروټي د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له مرستیالې میرمن یو میکوتاکاشیما سره د وري په ۲۹ مه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په ناسته کې په بېلابېلو برخو کې د مهاجرینو او راستنېدونکو لپاره د لازمو تیاریو، د تېرې ناستې پر موضوعاتو او د نوي پلان په اړه خبرې وشوې او دواړو لوریو پر هر اړخیزو همکاریو ټینګار وکړ.



## د مهاجرینو چارو وزارت مرستیال او سرپرست پر وخت او د رڼو کړنو په ترسره کولو ټینګار وکړ

د مهاجرینو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال او سرپرست الحاج محمد ارسلاح خروټي د دغه وزارت مسؤلینو سره په ناسته کې چې د غوايي په ۱۰ مه ترسره شوه په خپلو خبرو کې پروخت د رڼو کړنو په ترسره کولو او د مراجعینو سره پر ښه چلند ټینګار وکړ.



هغه د روژې میاشتې او د کوچني اختر د ورځو د فضلیت یادونه وکړه ويې ویل، چې د اختر د رخصتیو په تېرېدو سره د اداري چارو په ترسره کولو او د مراجعینو د کارونو په ترسره کولو کې ځنډ رامنځ ته شوی لازمه ده، چې د ټولو برخو کار کوونکي دې د اړوندو چارو په پلي کېدو کې په پوره جدیت سره کار وکړي او هم دې د الله د رضایت د ترلاسه کولو او د مراجعینو د خوشحالولو په موخه دې د دوی کارونه په پوره اخلاص او صداقت سره ترسره کړي.

## د مهاجرینو چارو وزارت د څارنې او ارزونې نوی رییس معرفي شو

د مهاجرینو چارو وزارت د مالي او اداري مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي له لورې د څارنې او ارزونې نوی رئیس مولوي مطیع الله د غبرګولي په لومړۍ نېټه د دغه ریاست کوونکو ته ور وپېژندل شو.

مالي او اداري مرستیال د څارنې او ارزونې د نوي رییس د پېژندنې پرمهال وویل، د چارواکو او کار کوونکو بدلول عادي خبره ده او تر ډېره د ښه والي او موثریت په خاطر تر سره کېږي.

هغه زیاته کړه، د څارنې او ارزونې نوی رئیس نه یوازې دا چې یوه لوستی شخص دی بلکې د زده کړو ترڅنګ په سیاسي او اداري چارو کې یو هوښیار او په کار پوهه شخصیت دی او هیله مو ترې دا ده، چې د خپلې وړتیا او د همکارانو له تجربو څخه په استفادې سره به د خلکو لپاره د اغېزناکو او ګټور خدمات د ترسره کېدو لامل وګرځي.



محترم مولوي مطیع الله دافغانستان اسلامي امارت د چارواکو د باور څخه مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ، چې د وزارت د چارواکو په لار ښوونه او د کار کوونکو په همکارۍ به ور سپارل شوې چارې په ښه شان ترسره کوي.

## د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له رئیس دفتر سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له رئیس دفتر سره د وري په□مه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په پیل کې ښاغلي راشید خبرې وکړې ویې ویل، د وخت د ضایعکېدو د مخنیوي او د PPA-۲۰۲۳ پروژې د پیل په موخه د دواړو خواوو له هوکړې وروسته د مهاجرینو چارو وزارت تخنیکي کمېټه جوړه کړه او په مرکز او ولایتو کې یې مهم فعالیتونه، د سرویرانو معاشونه، د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري او مهاجرینو چاور وزارت ترمنځ د ګډو فعالیتو لګښتونه او په یاده پروژه کې یې یوشمېر فعالیتونه مشخص کړي او هیله لرو چې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره هم د پروژې د فعالیتونو د بحث لپاره خپله تخنیکي کمېټه معرفي کړي، تر څو د لومړنیو پړاوونو له تېرېدو وروسته په یا دې پروژې د دواړو خواوو په هوکړې سره عملي کار پیل شي.

وروسته د پلان او پالیسۍ رئیس قاري احمدالله هاشمي او د وزارت د برنامو ارشد مدیر محمد اجمل په مرکز او ولایتونو کې د PPA-۲۰۲۳ پروژې د مثبتو پایلو په یادولو سره د PPA-۲۰۲۳ پروژې لپاره په مرکز او ولایتونو کې د ځانګړو شوو فعالیتونو په اړه معلومات ورکړل.

ورپسې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري د دفتر رئیس له خپل دفتر سره د مهاجرینو چارو وزارت له لازمې همغږۍ څخه د مننې په څرګندولو سره، په مرکز او ولایتونو کې په لنډ وخت کې د PPA-۲۰۲۳ پروژې اغېزمن تطبیق او د وزارت له لورې د تخنیکي کمېټې جوړول مهم ګام وباله ویې ویل، چې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له لورې د تخنیکي کمېټې د جوړېدو په اړه به له مرکزي دفتر سره تر مشورې وروسته اقدام وکړي.

دواړو لوریو د غونډو پر تنظیم، د اړیکو پر دوام او د دواړو ادارو ترمنځ د همغږۍ پر دوام ټینګار وکړ او د لا زیاتو همکاریو هیله یې څرګنده کړه.

## جیلیان تریکس: د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره غیر سیاسي سازمان دی او په بې پرې توګه خپلو مرستو ته دوام ورکوي

دغه خبره د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري مرستیالې میرمن جیلیان تریکس د غوایي په ۱۲مه د مهاجرینو چارو وزارت د مالي او اداري مرستیال او مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد سره په ناسته کې وکړه.



آغلې ټرکس خوښي څرګنده کړه، چې اوس په افغانستان کې د کار زمینه برابره ده او د کارونو سره لیوالتیا هم شتون لري.

نوموړې وویل: مونږ د افغانستان استقلال ته احترام لرو، د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره یوه غیر سیاسي اداره ده او خپلو مرستو ته به په بې پرې توګه ادامه ورکوي.

آغلې دغه راز زیاته کړه، چې زمونږ د معلوماتو له مخې په ګاونډیو هېوادونو کې زیاته برخه افغانان غواړي، چې په خپله خوښه هېواد ته راستانه شي او دوی ته باید د تعلیم، صحت او نورو اړتیاوو په برخه کې د اسانتیاوو زمینه برابره شي.

ښاغلي خروټي وویل: د مهاجرت اصلي لامل جنګ و چې اوسمهال پای ته رسیدلی، خو د تېرو جګړو او بې عدالتیو په پایله کې د تعلیمي ډګر په ګډون ټول ډګرونه زیانمن شوي او له سره غور او سمون ته اړتیا لري او موږ د ټولو مرستندویه بنسټونو څخه د اغېزمنې همکارۍ غوښتنه کوو.

هغه د مهاجرینو د اسنادو د نه لرلو ستونزه یاده کړه ویې ویل، د مهاجرینو لپاره د اسنادو درلودل یوه جدي اړتیا ده او د ملګري ملتوونه د چتر لاندې اداري باید په کوربه هېوادونو کې مهاجرینو ته د استوګنې د اړینو اسنادو برابرولو کې مرسته وکړي ترڅو کډوال له خپلو بنسټیزو حقونو څخه برخمن شي.

همدارنګه مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمان راشد وویل: د ګاونډیو هېوادونو سربېره په ځینو اروپایي هېوادونو کې هم افغان مهاجرین له بنسټیزو حقونو بې برخې دي او یادو ستونزو ته د رسېدو لپاره درې اړخیزې او څلور اړخیزې ناستې ډېرې اړینې دي.

هغه زیاته کړه، له راستنېدونکو سره دې د کمیت او کیفیت له پلوه کافي مرستې وشوي، ترڅو له راستنېدو وروسته د هغوی لپاره کاري چاپیریال برابر شي او د ځان بسیاینې مرحلې ته ورسېږي او د مهاجرینو موضوع له سیاست سره ونه تړي، بلکې راستنېدونکو او بېځایه شوو کسانو سره باید په پوره اخلاص او د انساني همدردۍ له مخې مرستې وشي او د دوی لاس نیوی وشي.

## د مهاجرینو چارو وزارت او همکارو موسسو ترمنځ د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د مهاجرینو چارو وزارت او موسسو ترمنځ د وري په ۱۵ مه د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

د یادو هوکړه لیکونو مالي لګښت (۹) میلیونه، (۳۸۸) زره او (۷۸۸) امریکایي ډالره دی، چې له مخې به یې په کابل، هرات، فراه، غور، بادغیس، غزني، میدان وردګ، لوګر، بامیان، دایکندي، خوست پکتیا، پکتیکا او قندهار ولایتونو او شمال او ختیځو ولایتونوکې د نغدي مرستو، لمریزې برېښنا، روزنیزو او حرفوي زده کړود مرکزونو جوړلو، نیالګیو د اېښودو، د اوبو د کانالون، کور جوړولو، دوکانونو، ښوونځیو، روغتونونو، پل او پلچکونو، استنادي دېوالونو او د باغدارۍ د وسایلو په برخه کې خدمات وړاندې کوي.

یاد هوکړه لیکونه د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او برک افغانستان بنګله دیش بنیاد آغاخان، خدمات اجتماعي زنان



افغانستان انجمن دنمارک، خدمات اجتماعی وتخنیکی وطن، احیای صحت وجامع افغانی داستازو ترمنځ لاسلیک شول.

## د مهاجرینو چارو وزارت او د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري د ګډې تخنیکي کمېټې ناسته ترسره شوه

دمهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري د رئیس لیو نارد زلو په ګډون د دواړو ادارو د ګډې تخنیکي کمېټې ناسته د غوایي په ۲۴ مه ترسره شوه.

په دې ناسته کې چې د مسلکي مرستیال په کاري دفتر کې ترسره شوه، پکې د راستنېدو څخه وروسته د مهاجرینو د مالي ملاتړ، د راستنېدونکو او بېځایه شوو لپاره د کار موندنې په برخه کې د پروژو پلي کولو، د مهاجرینو د حقوقي ملاتړ او د هغوی ستونزو ته د لاسرسي، د نړیوالو مرستو د جلب، د دایمي حل لارو د کاري ډلې د مسودې، د ګډو تخنیکي ټیمو د ناستو د نېټې، د درې اړخیزو ناستو د ترسره کولو او د (۲۰۲۳) کال د هوکړه لیکونو د پلان په اړه خبرې وشوې.

دملګرو ملتونو د کډوالو اداري رئیس د مهاجرینو چارو وزارت سره د همکاریو او راستنېدونکو او بېځایه شوو ته د مرستو پر دوام ټینګار وکړ ویې ویل، چې د مرستندویه بنسټونو سره په ګډې همکارۍ او همغږۍ لانبه او غور خدمات وړاندې کړي.

د مهاجرینو چارو وزرات مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د یاد دفتر د همکاریو څخه مننه وکړه، ویې ویل، موږ به په ګډه کار کوو، ترڅو اړمنو او مستحقو کورنیو ته ښه او پروخت خدمات وړاندې کړو او هیله مند یم، چې ګډه تخنیکي کمېټه به د منظمو ناستو د ترسره کولو ترڅنګ د کار په عملي سیمه کې نور لازم فعالیتونه هم ترسره کړي.



په یاده ناسته کې د وزارت یو شمېر مرکزي رئیسانو او د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري د بېلابېلو برخو استازو هم شتون درلود.

## مسلکي مرستیال د ډنمارک د ټولنې له مرستیال سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د ډنمارک د ټولنې له مرستیال احمد ضیا مایار سره د غوایي په ۲۰ مه نېټه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په دغه لیدنه کې، ښاغلي مایار د یادې موسسې د فعالیتونو او په بېلابېلو برخو کې زیانمو شوو کورنیو ته د رواني ناروغیو په برخه کې د خدمتونو د وړاندې کولو په اړه د عامه پوهاوي د پروژې د پلي کولو پر اداري ستونزو خبرې وشوې.

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال رواني ناروغي یوه ستونزه او ننګونه وبلله ویې ویل، زموږ هېوادوال ډېرې ستونزې لري، په ځانګړي توګه په اقتصادي برخه کې، نو پکار ده چې لومړی له اړوندو ځانګو سره په هوکړې ستونزو او اړتیاوو ته لومړیتوب ورکړو، عملي یې کړو او حل لپاره یې اقدام وکړو.

ښاغلي راشد وویل، چې د اقتصادي ستونزو حل نسبت نورو ستونزو ته مهم دی او همکاران باید هڅه وکړي، چې د دولتي ادارو سره په ګډه کار وکړي او د حل په موخه یې د خلکو پرځان بسیاینې ته وده ورکړي.



## د مهاجرینو چارو وزارت کې د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک کړل

د څه باندې پینځه میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د مهاجرینو چارو وزارت او درې همکارو موسسو ترمنځ د غوایي په ۲۶ مه د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

د لاسلیک شوو هوکړه لیکونو مالي لګښت ۵ میلیونه، یوسلو ۴۰ زره او ۴۱ امریکایي ډالره کېږي، چې له مخې به یې په کابل، پروان، کاپیسا، لوګر، بامیان، بلخ، سرپل، بغلان، کندز، فاریاب، تخار، جوزجان، سمنګان او بدخشان ولایتونوکې ۸ زره او ۸۱۸ کورنیو سره د ښوونځیو، د اوبو د ذخیرو، ګل خانو، سرپناه، د حرفوي زده کړو او د لمریزې برېښنا د تختو په برخه کې مرستې وشي.

یاد هوکړه لیکونه د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او احیای صحت وجامعه افغانی، VOPOHA ، APWDO) موسسو د استازو ترمنځ لاسلیک شول.







## د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال په کابل کې د ملګرو ملتونو دفتر د رئیس له مرستیالې سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د دفتر د رئیس له مرستیالې میرمن یومیکو سره د غرګولي په لومړۍ نېټه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په ناسته کې د افغانستان، ایران، پاکستان او د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د مخکینۍ څلور اړخیزې ناستې، د تخنیکي کمېټې د دندو د لایحې د ترتیب، د ګډو فعالیتونو د پلي کېدو د پلان او د مهاجرینو چارو وزارت سره د (۲۰۲۳) کال د ګډ هوکړه لیک اړوند خبرې وشوې.

اغلې یومیکو د تخنیکي کمېټې د جوړېدو، عملي فعالیتونو، د هغه د ملاتړ، په افغانستان کې د یاد دفتر د پلانونو په ځانګړي توګه د مهاجرینو او راستنېدونکو د ستونزو په اړه خبرې وکړې ویې ویل، موږ باید داسې نوښتونه ولرو، چې د ګډو همکاریو د پیاوړتیا لپاره زمینه سازوي.



هغې زیاته کړه، چې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره د مهاجرینو چارو له وزارت سره همکاریو ته لېواله ده او زموږ موخه له افغانستان سره مرسته او همکاري ده.

مسلکي مرستیال د یو شمېر شته ستونزو د حل د یادونو ترڅنګ د یاد دفتر د همکاریو څخه مننه وکړه او په راتلونکي کې یې د پلان شوو همکاریو او د هغه د اغېزمنتیا غوښتنه وکړه.

په دې ناسته کې د وزارت یو شمېر مرکزي رئیسانو هم شتون درلود.

## د مهاجرینو چارو وزارت کې د څه باندې ۷۰۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د لاسلیک شوو هوکړه لیکونو مالي لګښت ۷ سوه ۵۲ زره او ۹۲۰ امریکایي ډالره کېږي، چې له مخې به یې ۱۷ زره او ۵۱۰ کورنیو سره په هلمند، بامیان، هرات او بادغیس ولایتونو کې نغدي، روغتیایي، خوراکي، غیرخوراکي، د عامه پوهاوي د سیمینارونو د ترسره کولو او د ظرفیت لوړونې په برخه کې خدمات ترسره کوي.

یادهوکړه لیکونه د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او هماهنګي توسعه وباسازی افغانستان، HRRAC او اداره خدمات اجتماعی زنان افغانستان موسسو د استازو ترمنځ لاسلیک شول.



## مسلکي مرستیال په کابل کې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د عملیاتي برخې له مرستیال سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په کابل کې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د عملیاتي برخې له مرستال سره د غبرګولي په ۸ مه لیدنه وکړه.

په ناستې کې مسلکي مرستیال د فعالیتونو په پلي کولو او عملي کولو، ژمنو او د تېرې ناستې د پایلو په اړه د یاد دفتر له مسؤلینو سره خبرې وکړې.

وروسته بناغلي ننډو په افغانستال کې د یاد دفتر د فعالیتونو، د عملیاتي برخې د پلانونو او همدارنګه په جینوا کې د مرکزي دفتر د اصولو او شرایطو په اړه خبرې وکړې ویې ویل، موږ د مهاجرینو چارو له وزارت سره همکاریو ته لیواله یو او په راتلونکي کې به همکاریو ته دوام ورکړو.

## د مهاجرینو چارو وزارت او موسسه عمل اجمتاعي برای التیام فقر ترمنځ د همکاریو هوکړه لیک

د مهاجرینو چارو وزارت او موسسه عمل اجمتاعي برای التیام فقر ترمنځ د غبرګولي په ۱۴ مه د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو.



د لاسلیک شوي هوکړه لیک مالي لګښت (۶۸) زره او (۲۰۸) امریکایي ډالره کېږي، چې له مخې به یې په خوست او پکتیکا کې (۱۰) زره او (۶۳۴) کورنیو سره د خوراکي توکو مرستې ترسره کوي.

یاد هوکړه لیک د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او یادې موسسې د استازي ترمنځ لاسلیک شو

## مسلکي مرستیال په کابل کې د ترکیې سفیر د مشاور له مرستیال سره لیدنه وکړه



د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په کابل کې د ترکیې د سفیر له مرستیال عبدالله دندار او مل پلاوي سره د غبرګولي په ۱۸ مه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې په کابل کې د لوی اختر په ورځو کې ۲ زرو کورنیو سره د مهاجرینو چارو وزارت له لارې د ترکیې هېواد د بشري مرستو په اړه خبرې وشوې.

مسلکي مرستیال د افغانستان او ترکیې هېواد دوستانه تاریخي اړیکو ته په اشاري سره په هغه هېواد کې د مېشتو افغان مهاجرینو سره د دوی د همکاریو مننه وکړه او د مرستو د دوام غوښتنه یې وکړه.

په کابل کې د ترکیې د سفیر مشاور عبدالله دندار وویل، افغان مهاجر زموږ ورونه دي او وسمهال شاوخوا ۲۰۰ سوه زره افغانان په قانوني توګه په ترکیې کې ژوند کوي، چې د اقتصاد، کرنې او ټیکنالوژۍ په برخه کې له موږ سره کار کوي.

ښاغلي راشد د یاد هېواد د همکاریو د منندې ترڅنګ وویل، چې په ترکیې کې د افغان مهاجرو دستونزو د هواري په موخه باید یو داسې میکانیزم او کړنلاره رامنځ ته شي، چې د دواړو لوریو ترمنځ په هوکړې سره برابره او د مقابل لوري د تائید وړ وګرځي.

په دې لیدنه کې د مذهبي چارو سلاکار عبدالقدیر ریکر اوغلو او د ترکیې د سرې میاشتې رئیس فرید احمد ضیا هم شتون درلود.

## د مهاجرینو چارو وزارت او اجتماعي او حقوقي افغانستان موسسې ترمنځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو

د مهاجرینو چارو وزارت او اجتماعي او حقوقي افغانستان موسسې ترمنځ د غبرګولي په ۲۲ مه د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو.

د یاد هوکړه لیک مالي لګښت ۴۱ زره او ۷۷۵ امریکایي ډالره دي، چې له مخې به یې په بغلان او کندز ولایت کې ۶۴۵ کورنیو سره د خوراکي توکو او نغدي مرستو په برخه کې مرستې ترسره شي.



یاد هوکړه لیک د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او یادې موسسې د استازي ترمنځ لاسلیک شو.

## د مهاجرینو چارو وزارت او زرغون افغانستان موسسې ترمنځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو

د مهاجرینو چارو وزارت او زرغون افغانستان د کرنې او مالدارۍ موسسې ترمنځ د غبرګولي په ۲۳ مه د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو.

د یاد هوکړه لیک مالي لګښت ۳۰ زره او ۳۲۲ امریکایي ډالره دی، چې له مخې به یې په کابل کې ۱۰ زره کورنیو سره دخوراکي توکو په برخه کې مرستې کېږي.



یاد هوکړه لیک د مهاجرینوچارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او یادې موسسې د استازي ترمنځ ترمنځ لاسلیک شو.

## د مهاجرینو چارو وزارت پلاوي د ایران په شېراز کې د مهاجرینو له استازو سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزارت پلاوي ایران ته د خپل سفر په ترڅ کې د ایران په شېراز کې د افغان مهاجرینو له استازو سره د غوایي په ۳ مه لیدنه وکړه.

یاد پلاوي د افغان مهاجرینو له استازو سره د لیدنې پرمهال د دوی ستونزې، نظریات او وړاندیزونه واورېدل او ژمنه یې وکړه، چې مطرح شوي موضوعات به د اسلامي امارت له مسؤلینو سره شریکې کړي.

دغه پلاوي چې د مولوي محمد جان خدرخېل په مشرۍ تهران ته تللی و، د مهاجرینو د یو شمېر ستونزو له حل وروسته د هغه هېواد بلوچستان سستان ایالت ته ولاړ او هلته یې د افغان مهاجرینو له استازو سره لیدنه وکړه د هغوی ستونزې یې واورېدې او ژمنه یې وکړه، چې د دوی ستونزې به د امکان تر حده د اسلامي امارت له چارواکو سره شریکې کړي.

## د بګرامیو کمپ د بېځایه شوو استازو خپلې ستونزې د مهاجرینو چارو وزارت سره شریکې کړې

د مولوي سردار محمد شېرزاد په مشرۍ د کابل ولایت د بګرامیو ولسوالۍ د حسین خېلو کمپ د بېځایه شوو د ستونزو په اړه ناسته د غبرګولي په ۲ مه تر سره شوه .



یادو استازو د کار د نشتوالي، شخصي دښمنیو او اقتصادي ستونزې د مهاجرینو چارو وزارت سره شریکې کړې او غوښتنه یې وکړه،چې د دوی د دایمي استوګنې لپاره د مناسب ځای په برابرولو کې له دوی‌سره همکاري

مولوي سردار محمد شېرزاد له بېځایه شوو سره د مرستو په جلبولو کې د دغه وزارت د هلو ځلو یادونه وکړه او ډاډ یې ورکړ، چې د وزارت مشر تابه هڅه کوي، چې د هېواد په لرې پرتو سیموکې له هر مستحق کس سره مرسته او همکاري وکړي.



هغه زیاته کړه، اوسمهال په ټول هېواد کې امنیت دی، باید ټول داخلي بېځایه شوي بېرته خپلو اصلي سیموته ستانه شي او د مهاجرینو چارو وزارت د هغو کورنیو نه ملاتړ کوي چې په خپله خوښه خپلو اصلیسیمو ته ستنېږي.

## د مهاجرینو چارو وزارت ډریورانو ته روزنیز ورکشاپ ترسره شو

د ترانسپورت وزارت او د کابل ولایت د ترافیکو ریاست په همغږۍ د مهاجرینو چارو وزارت ډریورانو ته د ترافیکي قوانینو او د موټرو د ساتنې په اړه د غبرګولي په ۲۰ مه روزنیز ورکشاپ تر سره شو.

په یاده برنامه کې، چې د یوې ورځې لپاره د مهاجرینو چارو وزارت د ناستو په تالار کې ترسره شوه، په لومړي سر کې د مهاجرینو چارو وزارت د بشري سرچینو رئیس مفتي مدیر ګل احمدي د موضوع اړوند خبرې وکړې او د موټر چلوونکو په مسلکیتوب، ورتیا ، ښو اخلاقو او د وسایطو په ساتنې یې ټینګار وکړ.

وروسته د ترانسپورت وزارت استازي انجینر حنیف الله د موټر چلوونکو د تخنیکي او عملیاتي مکلفیتونو، وسایطو د ساتنې، ترافیکي مقرراتو او د وسایطو څخه د ښې استفادې په اړه د ورکشاپ ګډنوالوته پریزینټیشن وړاندې کړ.



هغه په خپلو خبروکې پردې ټینګار وکړ، چې له یاد ورکشاپ څخه دې اغېزمنه استفاده وشي او هیله یې څرګنده کړه، چې دغه ورکشاپ به د تخنیکي او مسلکي خدمتونو کیفیت لوړ کړي.

## غور کې یوسلو ۴۴ اړمنو کورنیو سره مرستې شوي

د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې له لورې په غور ولایت کې ۱۴۴ کورنیو سره نغدي مرستې شوي.




یادو کورنیو هرې کورنۍ ته د مهاجرینو چارو آمریت په همغږۍ ۵۵ زره او ۸۵ افغانۍ نغدې ووېشل شوې.

## بغلان کې سلګونه کورنیو سره مرستې شوي

د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې، آغاخان بنسټ او موسسه انکشافي وتعلیمي افغانستان له لورې اته سوه او ۵۱ کورنیو سره مرستې شوې.



یادې کورنۍ چې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې هرې کورنۍ ته ۶۱۸ کیلو لرګي، ۶ بوتله د اور مایع او یوه یوه بخارۍ وېشل شوې ده.

## لغمان کې سلګونو کورنیو سره مرستې شوي

د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې له لورې په لغمان ولایت کې پینځه سوه ۲ کورنیو سره د لمریزې برېښنا د وسایلو او نغدي مرستې شوي.

یادې کورنۍ چې مخکې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه

شوې وې هرې کورنۍ ته دوه بطرۍ، یوه ۳۰۰ واټه د لمریزې برېښنا تخته او څلور شپېته زره او ۴۵۰ افغانۍ نغدې وېشل شوې دي.



## د پاکستان او ایران له زندانونو ۲۵۸ افغانان خوشې شول

په اسلام آباد کې د مهاجرینو چارو وزارت د اتشې د معلوماتو له مخې څلور سوه او ۶۰ تنه افغانان چې مخکې د پاکستان هېواد د سند ایالت د امنیتي ادارو له لورې نیول شوي و د هغه ایالت د استیناف محکمې د حکم پر اساس له زندانه خوشې شول.

یاد کسان د افغانستان سفارت، په اسلام آباد کې د مهاجرینو چارو وزارت د اتشې او په کراچۍ کې د جنرال قونسل په همکارۍ په تېرو دریو میاشتو کې د قندهار ولایت د سپین بولدک له لارې هېواد ته راستانه شول.

د یوبل خبر له مخې ۱۹۸ تنه نور افغانان چې په ایران کې بندیان ول له بنده خوشې او د هرات ولایت د اسلام قلعه او نیمروز ولایت د ورېښمو پل له لارې هېواد ته راستانه شوي.



په خوشې شویو بندیانو کې زده کوونکي، عالمان او عام خلک شامل ول، چې د ایران هېواد د زاهدان د الغدیر له زندانه د افغانستان د قونسلګرۍ او د وزارت د پلاوي په هڅو خوشې او هېواد ته راستانه شوي.

د سرچینې په خبره یاد کسان مرستو د تر لاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور پېژندل شوي دي.

## خوست کې نږدې ۲۰ زره کورنیو سره مرستې شوې

د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې، د خوراک نړیوال سازمان، د ژغورنې نړیوالې کمېټې، د افغانستان د بشري مرستو خیریه صندق او د ناروې د مهاجرینو ټولنې له لورې د خوست ولایت په یوشمېر ولسوالیو کې نولس زره او ۹۶ کورنیو سره د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ نغدي او د خوراکي توکو مرستې شوې.

په یادو مرستو کې ۶۵ کیلو اوړه، ۸ کیلو غوړي، یوه کیلو مالګه او د سرپناه د جوړېدو او د کرایه پیسې شاملې وې.

د یوبل خبر له مخې د پاملرنې موسسې له لورې په خوست ولایت کې ۵۰ تنو ته د موټرسایکل او موبایل جوړېدو د حرفوي زده کړو کورس په لاره اچول شوی و، چې له فراغت وروسته ورسره د وسایلو د لېږد په موخه نغدي مرستې وشوې.





## په جوزجان ولایت کې له څلور زره او ۵۰۰ زیاتو بېځایه شوو کورنیو سره مرستې شوې

د یو شمېر مرستندویه موسسو له لورې په جوزجان ولایت کې څلور زره او ۵۹۹ کورنیو سره مرستې شوې.

په یادو کورنیو کې بېځایه شوې او د جوزجان ولایت د بېلابېلو ولسوالیو مستحقې کورنۍ شاملې وې، چې مخکې د جوزجان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې، چې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې، کمیته دنمارک برای کمک به پناهنده ګان افغان او ولت هوګرموسسې له لورې ورسره مرستې شوې دي.



په یادو مرستو کې خوراکي توکي او د سرپناه د جوړېدو په موخه نغدي مرستې شاملې وې.

## بلخ کې له دوه زره او ۵۰۰ زیاتو کورنیو سره د خوراکي توکو او نغدي مرستې شوې

د یو شمېر همکارو بنسټونو له لورې د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست ترڅارنې لاندې دوه زره او ۶۲۲ کورنیو سره نغدي او د خوراکي توکو مرستې شوې.

یادې کورنۍ چې مخکې د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د استازو په شتون کې هرې کورنۍ سره د ۱۱ قلمه خوراکي توکو او په بېلابېلو کټګوریو کې نغدي مرستې شوې دي.

یادې مرستې د بنیاد خیریه آبي، بنیاد خیریه المصطفی، د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې، د ناروې د مهاجرینو د ټولنې، د مهاجرت نړیوال سازمان، سازمان همکاري هاى فنى و انکشافي، رفاه اجتماعي او اکشن ایډ موسسې له لورې ترسره شوې دي.



د یوبل خبر له مخې د څښاک د اوبو د پروژې برابرول، ۱۸ مبرزونه او ۱۸ حمامونه د بلخ ولایت په نهر شاهي ولسوالۍ کې د ۶۸ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د اکشن ایډ موسسې له لورې بشپړ او د دغه ولایت د حضرت بلال د مهاجرینو کمپ کې د یو ټولنیز مرکز د جوړېدو د بنسټ ډبره د یادې موسسې له لورې د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ کېښودل شوه.

## ننګرهار کې شاوخوا ۲ زره کورنیو سره مرستې شوې

د مهاجرت نړیوال سازمان، سازمان همکاري هاى فنى وانکشافي، د افغان پناه غوښتونکو لپاره د ډنمارک د ټولنې، OCH، د ژغورنې نړیوالې کمېټې، ACTIONA، اکشن ایډ او د ناروې د مهاجرینو ټولنې له لورې په ننګرهار کې یو زرو ۶۷۹ بېځایه شوو او ۳۴ تنه بېوزلو او رد مرز شوو سره نغدي، د خوراکي توکو او روغتیایي کڅوړو مرستې شوې



هرې سروې شوې کورنۍ ته د ننګرهار ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د استازو په شتون کې څلور قلمه خوراکي توکي، روغتیايي کڅوړې او په بېلابېلو کټګوریو کې د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره نغدي مرستې شوې دي.

## پکتیا کې یو زرو ۲۵۰ کورنیو لمریزې برېښنا ته لاسرسی پیدا کړ

د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له لوري په پکتیا ولایت کې یو زرو ۲۵۰ کورنیوته د مهاجرینو چارو وزارت د سرپرست وزیر په شتون کې د لمریزې برېښنا تختې ورکړل شوې.

یادې مرستې د مهاجرینو چارو وزارت د سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني له لوري پرهغو کورنیو ووېشل شوې چې مخکې د پکتیا ولایت د مهاجرینوچارو ریاست د کار کوونکو له لوري سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې.

په یادو مرستو کې دوه د لمریزې برېښنا تختې، دوه بطرۍ او د اړتیا وړ وسایل شامل ول.



## لوګر کې له یوزرو ۵۰۰ زیاتو کورنیو سره مرستې شوې

د لوګر ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې یو زرو ۵۴۴ کورنیو ته خوراکي توکي او روغتیايي کڅوړې د یو شمېر مرستندویه بنسټونو له لوري وېشل شوي.

یادې کورنۍ چې مخکې د لوګر ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ د یو شمېر همکارو بنسټونو له لوري سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې هرې کورنۍ ته د څهار تراش لرګي، تختې، خښتې، شګه، بلوک، فلزي دروازې، لرګي، سیمټ، په بېلابېلو کټګوریو کې ۵۵۰۰ ډالره، ۴۳ زره، ۲۲ زره او ۶۰ او ۱۱ زره افغانۍ، ۵ قلمه خوراکي توکي او یوه یوه روغتیايي کڅوړه وېشل شوې ده.



## سرپل کې شاوخوا ۲ زره کورنیو سره نغدي مرستې شوې

د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري او موسسه انکشافي وتعلیمي افغانستان له لوري په سرپل ولایت کې یو زرو ۸۳۵ کورنیو سره نغدي او د لمریزې برېښنا د وسایلو مرستې شوې.

یاد کورنۍ چې د مهاجرینو چارو ریاست له لوري په سنچارک، کوهستانات، ګوسفندي او بلخاب ولسوالیو کې سروې او د مرستو لپاره مستقې په نښه شوې وې هرې کورنۍ ته په بېلابېلو کټګوریو کې ۲۹ زره، ۱۵۰، ۴۸ زره او ۵۵۰، ۶۵ زره او ۳۰۰ افغانۍ او ۶۱۸ کیلو لرګي وېشل شوې دي.



## بدخشان کې د طبیعي پېښو له امله یو زرو ۷۷۴ زیانمو شویو کورنیو سره نغدي او د لمریزې برېښنا د وسایلو مرستې شوې

د بدخشان ولایت په شهدا، جرم، راغستان، یمګان، یاوان او راغ ولسوالیو کې د طبیعي پېښو له امله یو زرو ۷۶۴ زیانمنو شوو او راستنېدونکو کورنیوته د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره د ژمنۍ بستري د برابرولو په موخه ۲۸ زره او ۱۲ زره افغانۍ او دوه د لمریزې برېښنا ۳۰۰ واټه تختې، دوه ۲۰۰ امپیره بطرۍ، چې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري، د سازمان همکاریهای فني او مهاجرت نړیوال سازمان له لوري برابرې



شوې وې د مهاجرینو چارو ریاست د کار کوونکو د څارنې لاندې وېشل شوې دي.

د یوبل خبرله مخې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له لوري د یو ښوونځي ودانۍ، چې ۱۲ درسي خونې لري او ۴۰۰ زده کوونکي پکې ځایږي په پاخه او اساسي شکل جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.



## هرات کې پېنځه زره کورنیو سره نغدي مرستې شوي

د یو شمېر موسسو له لورې د هرات ولایت په کشک کهنه، کشک رباط سنګی، انجیل، ګذره، پشتون زرغون او غوریان ولسوالیو کې پېنځه زره زیانمنو شوو کورنیو سره نغدي او د خوراکي توکو مرستې شوي.

یادې کورنۍ، مخکې د مهاجرینو چارو ریاست له لورې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې، چې په بېلابېلو کټګوریو کې هرې کورنۍ ته ۱۰ ، زره، ۸۵ ، ۲۸، ۲۲، ۱۶، او ۵ زره افغانۍ نغدې ووېشل شوي دي.

ذکر شوې مرستې د CORDAID، اکشن اید ، اسلامیک ریلیف، ډنمارک د مهاجرینوټولنه، بنیاد تغذیه و تعلیم او بنیاد خیریه المصطفی له لورې برابرې شوې وې.




## هلمند کې له ۲۰۰ زیاتو کورنیو ته د لمریزې برېښنا وسایل وېشل شوي دي

د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې له لورې د هملند ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ دوه سوه او ۵۰ کورنیو ته د لمریزې برېښنا وسایل وېشل شوي دي.

په یادو مرستو کې دوه بطرۍ، دوه ۳۰۰ واټه د لمریزې برېښنا تختې سره د وسایلو او همدارنګه یو زرو ۸۰۰ افغانۍ نغدې د وسایلو د لېږد په موخه وې چې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د پېژندنې وروسته ورته وېشل شوي دي.



## دغزني ولایت د البیروني د مهاجرینو ښارګوټي سرکونه چغل اندازي شول

د غزني ولایت د البیروني د مهاجرینو ښارګوټي سرک هوارول او چغل اندازي، چې ۱۰۵۰ متره اوږد والی او ۶ متره پلن والی لري د یو میلیون او سل زره افغانیو په مالي لګښت د ډنمارک د مهاجرینو ټولنې له لورې بشپړشوي، چې په دې سره د ښارګوټي د دوه زرو کورنیو ستونزې یې هوارې شوې.

د یوبل خبر له مخې ۳۷ بېځایه شوو او اړمنو کورنیو سره د ولي محمد شهید ولسوالۍ او مرکزي سیمو کې د موسسه هماهنګي کمک های انسانی له لورې نغدي مرستې شوي.

په یادو مرستو کې ۲۲ زره او ۶۰۰ افغانۍ شاملې وې چې هرې کورنۍ ته د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ وېشل شوي دي.



## سمنګان کې شاوخوا ۷ زره کورنیو سره مرستې شوي

د یو شمېر مرستندویه بنسټونو له لورې د سمنګان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ شپږ زره او ۹۴۲کورنیو سره مرستې شوي.

یادې کورنۍ چې په روی دوآب، خرم سارباغ، فیروز نخچیر او حضرت سلطان ولسوالیو کې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې د کور د ترمیم او سرپناه په موخه هرې کورنۍ ته په بېلابېلو کټګوریو کې ۱۱ زره او ۴۰۰ افغانۍ، ۱۹ زره، ۳۸ زره او ۱۰۰ ، ۱۷ زره او ۱۰۰ ، ۲۸ زره او ۴۵۰ ، ۲۵ زره ۳۵۰ ، ۱۱ زره ۴۵ ، ۱۹ زره او ۱۰۰ ، ۲۵ ، ۵۵۰ ، ۳ زره او ۹۰۰ افغانۍ نغدې وې، چې د صندوق بشردوستانه افغانستان بشری صلح سازان افغان، د ماشومانو د ملاتړ نړیوال صندوق او اکشن اید له لورې برابرې شوې وې.



## بامیانو کې شاوخوا ۲ زره کورنیو سره نغدي مرستې شوي

د اکشن ایډ، د ژوغورنې نړیوالې کمېټې، خدمات اجمتاعی و تخنیکي وطن او ابرار خیریه بنسټ له لورې د بامیانو ولایت په سیغان، وراث ولسوالیو او مرکزکې یو زرو او ۸۷۳ راستنېدونکو، بېځایه شوو، اړمنو او زیانمنو شوو سره نغدي مرستې شوي.




په یادو مرستو کې ۱۰ زره او ۴۰۰، ۲۴ زره، ۴۷ زره ۷۰۰، ۶۱زره، ۸ زرافغانۍ او ۳۳۱ آمریکایي ډالره شامل ول، چې د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ ورته وېشل شوي دي.

## کندز کې سلګونو کورنیو سره مرستې شوي

د یو شمېر مرستندویه بنسټونو له لورې په کندز کې ۴۴۷ کورنیو سره د غیر خوراکي توکو مرستې شوي.

یادې کورنۍ، چې مخکې د کندز ولایت د مهاجرینو چاروریاست په همغږۍ په خان آباد، دشت ارچي، امام صاحب، علي آباد او آقتاش ولسوالیو کې سروې او مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې هرې کورنۍ ته د پخلنځي وسایل، په دوه کټګوریو کې ۲۵ زره او ۵۶۱ افغانۍ، دوه د لمریزې برېښنا تختې، دوه بطرۍ سره د وسایلو د ناروې د مهاجرینو ټولنې، لت هونګر هلیف او د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له لورې لاسته راوړي دي.




د یوبل خبر له مخې د څلور لارې د ۷ کیلو متره سرک چغل اچونه او ۱۱ پلچکونه د یومیلیون، درې سوه اووه زره او ۹۶۰ افغانیو په ارزښت د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له لورې بشپړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي.



## نمیروز کې ۲۰۰ کورنیو سره نغدي او د لمریزې برېښنا د وسایلو مرستې شوي

د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له لورې د نیمروز ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په همکارۍ دوه سوه کورنیو سره د لمریزې برېښنا دوسایلو مرستې شوي.

یادې کورنۍ، چې مخکې د مهاجرینو چارو آمریت له لورې په خاشرود او د لارام ولسوالیو کې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې هرې کورنۍ ته دوه ۲۰۰ امپیره بطرۍ دوه ۳۰۰ واټه تختې سره د وسایلو او همدارنګه یو زرو ۸۰۰ افغانۍ نغدې د لېږد په موخه وېشل شوې دي.



## تخار کې له ۲۰۰ زیاتو کورنیو سره مرستې شوي

د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري او ډنمارک د مهاجرینو کمېټې له لورې د تخار ولایت په بنګي، بهارک، خواجه بهاوالدین ولسوالیو او مرکز کې شپږسوه او ۲۹ بېځایه شوو او رد مرز شووته روغتیایي کڅوړې او د لمریزې برېښنا وسایل وېشل شوي دي.



## پروان او کاپیسا کې له زرو زیاتو کورنیو سره مرستې شوي

د یو شمېر مرستندویه بنسټونو له لورې د مهاجرینو چارو ادارو په همغږۍ په کاپیسا او پروان ولایت کې یو زرو او ۵۱ بېځایه شوو او مستحقو کورنیو سره نغدي مرستې شوي.

د معلوماتو له مخې د کاپیسا ولایت په نجراب او تګاب ولسوالیو کې د کمکهای انسانی و احیای اجمتاعی زنان افغانستان موسسې د سرپناه د جوړولو په موخه هرې کورنۍ ته په بېلابېلو کټګوریو کې ۵۲زره۸۸۰، ۱۹زره، ۱۱ زره، ۲۲ زره او ۶۰۰ ، ۲۷ زره او ۴۸ زره او ۵۵۰ افغانۍ مرستې شوي.

د یوبل خبر له مخې ۱۲۳ بېځایه شوو او راستنېدونکو کورنیو سره په پروان ولایت کې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له لورې د مهاجرینو چارو اداري په همغږۍ ۲۷زره او ۵۰۰، او ۲۲ زره او ۶۰۰ افغانۍ نغدي وېشل شوي دي.






## په پکتیا او میدان وردګو کې له ۳ زرو زیاتو کورنیو سره مرستې شوي

د ملګرو ملتونو دکډوالو اداري او موسسه عمل اجتماعي برای التیام فقر له لورې د پکتیا او میدان وردګو ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ ۳ زره او ۲۹۲ بېځایه شوو کورنیو سره نغدي مرستې شوي.

د معلوماتو له مخې د یادو کورنیو له ډلې ۲۹۴۸ کورنۍ، چې د مهاجرینو چارو ریاست له لورې د پکتیا ولایت په برمل او ګیان ولسوالیو کې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې هرې کورنۍ ته څلور قلمه خوراکي توکي او ۴۷ زره او ۷۰۰ افغانۍ نغدې وېشل شوي دي.







د یوبل خبر له مخې ۳۴۴ کورنۍ، چې د میدان وردګو ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې مخکې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې هرې کورنۍ ته په بېلابېلو کټګوریو کې ۲۲ زره او ۶۰۰ ، ۲۷ زره او ۵۰۰ او ۴۷ زره او ۷۰۰ افغانۍ نغدي وېشل شوي دي.

## فاریاب او باد غیس کې سلګونو کورنیو سره مرستې وشوي

په فاریاب او بادغیس ولایتونو کې ۵۶۲ کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې شوي.

د یادو مرستو له ډلې د فاریاب ولایت په المار، قیصار، پښتونکوټ او ګرزیوان ولسوالیو کې ۴۵۸ کورنیو هرې کورنۍ ته د لمریزې برېښنا وسایل او ۴۷ زره او ۷۰۰ افغانۍ نغدې د آغا خان او ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له لورې وېشل شوي.

همدرانګه د بادغیس ولایت په بالامرغاب او قادس ولسوالیو او مرکز قلعه نو ښار کې کې ۱۰۴ راستنېدونکو کورنیو ته ۴ قلمه خوراکي توکي د امریکا متحد ایالت پراختیایي برنامې له لورې د مهاجرینو چارو آمریت په همغږۍ وېشل شوي دي.





# د ایران څخه دري شپېته زره او ۸ تنه افغان مهاجر هېواد ته راستانه شوي

په تېرو دریو میاشتو کې له ایران څخه دري شپېته زره او ۸ تنه افغان مهاجر د هرات ولایت د اسلام قلعه او د قندهار ولایت د سپین بولدک له لارې هېواد ته راستانه شوي.

د اسلام قعله د سرحدي آمر په خبره د یادو راستنېدونکو له ډلې لس زره او ۶۰۵ تنه د مرستو د تر لاسه کولو په موخه د مهاجرنړیوال سازمان ته ورپېژندل شوي، چې ورسره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې شوي.



همدرانګه شپږ زره او ۱۱۹ تنه د قندهار ولایت د سپین بولدک له لارې راستانه شوي، چې پکې یو زرو ۳۹۲ کورنۍ او پېنځه زره او ۱۹۵ تنه په خپله خوښه او یوسلو او ۸۸ تنه په جبري توګه هېواد ته راستانه شوي.

د سرچینې په خبره د یادو کورنیو له ډلې یو زرو او ۳۹۲ کورنۍ د مرستو د تر لاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ورپېژندل شوي دي.



Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Refugee and Repatrations

Information and Public Relation Department

**Mohajer magazine**

**The second  issue,spring 1402**



Meeting of the Acting Minister of refugee and repatriation with pilgrims on the way of  Baitullah Sharif (HAJJ).

WWW.morr.gov.af